لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ    ۲۰۱۷/۰۵/۱۳

# د نړۍ پوځي ستراتیجي
# موږ افغانستان طالبانو ته بایلو ؟

سرچینه: سپیشل فورس خبري ویبپاڼه

ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

په افغانستان کې طالبانو خپل خونړي پسرلني عملیات اعلان کړل. له ۲۰۰۱ کال څخه را په دېخوا وسمهال د جنګ جګړو ګرندیتوب او د شدد کچه څښته ډیره لوړه شوي ده. په کابل کې د نویو تهاجمي بریدونو تمه کیږي.

آیا افغانستان بېرته د طالبانو لاس ته ورځي؟

## د تېر کال تریخ دردوونکي بېلانس

د افغانستان حالاتو په اړه د ملګرو ملتونو د یوه تازه دردوونکي رپوټ پر بنسټ تېر کال اټکل ۹۰۰ ماشومان وژلي شوي دي. د پخوا په پرتله د طالبانو د جنګ جګړو تاوتریخوالي کچه وسمهال خپل ورستي کچ ته رسیدلي ده. جنګ سالارې ملیشي او د طالبانو ډلي ورځ تر بلي زړوري کیږي. په کندهار او کابل کې پر دولتي تاسیساتو بریدونه ورځ تر بلي زیاتیږي.د دوی ځیني بریدونه لمسونکي، پاراوونکي دي او د خپل ځواک ښودني لپاره یې تر سره کوي:

ویبپاڼه لیکي:,, تاسي هیڅکله په افغانستان کې ډادمن او مطمئن نشي پاتي کیدلی ! دا هیواد زموږ دی! ,,

## په افغانستان کې خونړی پسرلی

پسرلی په افغانستان د جګړو موسوم دی. دا یو متل او په ریښتینه مانا یو واقعیت دی. د دې هیواد د ژمي په سختو سړو میاشتو کې طالبان معمولاً شاتګ کوي. دوی د پسرلي په پیل کې او یا د هوا له تودیدو سره نوې عملیات پیلوي. سږ کال به په افغانستان کې په ځانګړي ډول یو ډیر ستونزمن او خونړی کال وي.

په پرتلیزه توګه وسمهال طالبان د بل هر وخته څښت ډیر ځواکمن شوي او منظم شوي دي او دوی دې ته تیار او چمتو شوي دي، چې جګړه بیا ټول هیواد ته خپره کړي.

## د افغانستان د څو لسیزو جګړې

افغانستان د لسیزو راهیسي په جګړو او کورنیو جګړو کې ایسار دی. اوسنی جګړې پینځلس کاله دوام وکړ. د لویدیځوالو دولتونو جګړه لږ تر لږه د دې لپاره پیل شوه، چې په دې هیواد کې د سولې په راوستو او د امنیت په ټینګښت کې مرسته او همکاري وکړي. په ریښتني توګه دغه هیواد د ۱۹۷۹ کاله د شوروي اتحاد د پوځي اشغال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راهیسې په جګړه کې بوخت دی. په دې هیواد کې نږدې څلویښت کاله جګړه او کورنۍ جګړه روانه ده. په پایله کې دوه ستر زبرځواکونه روسیه او د امریکا متحده ایالات مات او ناکام کړل شول. په افغانستان کې د اشغالګرو لپاره د لاسته راوړنو یا د ګټلو لپاره هیڅ څه نشته. د دې لرغوني هیواد په اوږده تاریخ کې ځینو زبرځواکونو هڅه وکړه، څو دا هیواد لاندې کړي، خو دوی ټول مات او ناکامه شول .

## آیا موږ په افغانستان کې د یوې نوې ماتې له ګواښ سره مخامخ یو؟

د دې ډیر احتمال شته، چې موږ په افغانستان کې له دې برخلیک سره مخامخ شو او بیا ماتې تجربه کړو. ښایي په همدې راتلونکو یوه یا دوه کلونو کې تجربه کړو.کله چې د لویدیځوالو دولتونو دې ته پام شي او په دې هم پوه شي، چې د افغانستان جنګې ماموریت ډیر لوړ لګښتونه لري او په ریښتني مانا د بریالیتوب هیڅ چانس نشته.

دلته پرمختګونه شته، خو په خورا لږه کچه، ډیر پڅ او په ورو ورو روان دي. په ځانګړي توګه د دې پرمختګونو مخته پراته خنډونه، لکه د طالبانو نوې جګړییز ځواک او جګړییزه روحیه، په هیواد کې د ملي ګټو اړوند د قومي لږ کیو لیوالتیاوې، د مخدره توکو کښت او قاچاق، د افغان ولس اراده توک توک یا دړې وړې کیدل او دلته د ائتلافونو ژر ژر بدلون موندل دي.

## د بدې سابقې او ناوړې مخینې لرونکی توکمار پاکستان

تر هغه مهاله چې پاکستان په لوبه کې ښکېل وي. د طالبانو ستونزه به هیڅ مهال حل نشي. پاکستان د طالبانو ملاتړي او د ساتنې ځواک رول لوبوي او د طالبانو لپاره د شاتګ خوندي پټنځایونه برابروي. د پاکستان استخباراتي اداره اې ایس اې د طالبانو سره په ډیره پراخه لوړه کچه اړیکې لري او ورسره نیغ په نیغه ښکېله ده.

بن لادن کلونه کلونه بې موخې او بې ګټې اسلام آباد ته نږدې په یوه پوځې ښارګوټي کې خوندي پټ نه وه. تر اوسه هیڅ کره شواهد شتون نلري، چې اې ایس اې خبر او پوهیدو یا برعکس بن لادن پخپله ځان په نا رسمې توګه پټ کړي وه. خو د لویدیځ ټول حکومتونه او استخباراتي ادارې په دې ښه او په ډاډمنه توګه پوهیږي، چې دا کومه تصادفي پیښه نه وه.

سربیره پر دې په ۲۰۰۱ کال کې د امریکایانو د برید پر مهال اې ایس اې د پټو ژغورلو عملیاتو په ترځ کې د طالبانو ستره برخه او د دوی مخکښ مشران له هیواده بهر راویستل. امریکایانو داسې انګیرل، چې دښمن ته یې ماتې ورکړې ده. په ریښتنې مانا طالبانو په سرحدې سیمو کې د یو بل نوې چانس په انتظار کې ناست ول.

## د ۲۰۰۱ کال راهیسې وسمهال په لوړه کچه تاوتریخوالی

کیداې شي طالبانو ته د دې پسرلني یا اوړي پوځې عملیاتو په ترځ کې دا ستر چانس په لاس ورشي. له څنګه چې طالبانو د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو راهیسې څو څو واري لوې حملې او خونړي بریدونه د دې هیواد په مرکزي سترو ښارونو کې تر سره کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ۲۰۰۱ کال څخه را په دیخوا په افغانستان کي د احصائیو پر بنسټ د جګړیزو تاوتریخوالي کچه ښځته ډیره لوړه شوي ده. د دې بریدونو سره د افغان وسله وال پوځ او د پولیسو په لیکو کي د مرګ ژوبلي کچه په دوامداره او پرله پسي توګه لوړیږي.

د امریکا په متحده ایالاتو او اروپایي هیوادونو کي د لومړی ځل لپاره داسي غږونه راپورته شوي او کیږي، چي دا بې ځایه لګښتونه وسپماوئ او د دغي هیواد څخه لاس په سر شئ او راووځئ .

## خونړي کمپاینونه او پر لویو سیمو ستري بمباری

د پاکستان په لوري د افغانستان سرحدي سیمي عملاً غیر قابل نفوذ، په لاس نه راتلونکي او نه نیوونکي سیمي دي. د لویدیځ پوځونه د اوږد مهالو جګړو لپاره دې ستوغي پیچمو سیمو ته نه سم سمبال شوي او نه سم روزل شوي دي.

سربیره پردې د لویدیځو هیوادونو هیڅ یو حکومت به په سیاسي توګه داسي یوه کمپایني خونړی پریکړه د افغانستان په غرونو کي د اوږدو کلونو لپاره په خپلو ولسي جرګو کي تصویب نشي کړای.

له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۳ کلونو پوري پر دغو سیمو باندي پر لوی کچ بمباري بې اغیزې پریوتلي دي. ځکه طالبان د تونلونو له سیستمه کار اخلي او سمڅو ته شاتګ کوي او ځانونه په کې پټوي. تر یوه ټاکلي بریده پوري د دې تکتیک په وړاندې د بې دوه پنځوس ډوله الوتکو ستري بمباري هم بې اغیزې پریوتلي دي.

## د طالبانو خپلسري بې اداري مالي منابع او جاري بانکي حسابونه

د طالبانو مالي خزانو او یا بانکي حسابونو ته پیسي ځښتي ډیري وربهیږي. دا پیسي د سعودي عربستان، پاکستان، ایران او د خلیج له دولتونو څخه راځي. څو د کفارو او لویدیځو دولتونو په وړاندې د طالبانو له جګړې سره مرسته او همکاري وکړي. په ریښتیا سره د مرستو یو ډیر اغیزمن کانکریټي سیستم شتون لري. د قاچاقي پیسو دا سیستم له منځني ختیځه تر پاکستان سرحدي سیمو پوري غځیدلي دی. دا چي په دغه سیستم کي نغدې پیسي کارول کیږي، په ډیره سختي سره د دې نغدو پیسو جریان مخه نیول کیږي. د جګړې پیسي په دې کانکریټي سیستم کي د عامو خلکو، خپلوانو، د کورنی چینلونو له لارې او ان د حاجیانو په مرسته په کړو وړو لارو په جیبنو کي تر طالبانو لاسونو پوري رسول کیږي. مدرن بانکونه اصلاً دغه پیسي نه ویني. د دغو روانو پیسو شواهد، ثبوت، رسیدونه او سوابق اصلاً شتون نلري. د نړی هیڅ هیواد او یا څارګره اداره نشي کولاي، چي د دغو نغدو پیسو د لړدولو مخه ونیسي.

## د افغانستان دودیزه ستونزې

د افغانستان رسمي او مشروع حکومت په ډیره سختیو سره بیا هم د ټولو افغانانو حکومت نه دی. دا حکومت د هیواد ۶۵ سلنه کنټرلوي.پاتي ۳۵ سلنه د قبیلو، سترو کورنیو او طالبانو له لوري کنټرولیږي. په دغه سیمو کي طالبان آزاد ګرځي او د ستر واکمنو مخورو کورنیو سره د ائتلافونو په لټه کي دي. دوی له دې ځایونو څخه خپل اسلامي بریدونه پر ښارونو او سترو مرکزنو باندې تر سره کوي. او دوی د وسلو قاچاق، د مخدره توکو قاچاق او سوداګري کي ښکېل دي. کله چي له ګواښ سره مخامخ شي، دوی بیا شاتګ کوي او ځانونه د یوې مودې لپاره پټوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## د طالبانو ځانګړي تکتیکونه

طالبان په ډیر ندرت سره یا کله نا کله د ایساف له ځواکونو سره مخامخ جګړه کوي. دوی خپل ټول ترهګریزه بریدونه پر کلیوالي سیمو او ښارونو کې د افغان امنیتي سرتیرو باندې متمرکز او محدود کړي دي. دوی افغان امنیتي ځواکونه وژني. طالبان پردې هم پوهیږي، چې دوی د نړی ټول وخت له ځانه سره لري. دوی هڅه کوي د لویدیځ پوځیان د ستني چوغولو تکتیک له لارې له پښو وغورځوي. دوی د ځمکني حالاتو او اقلیمي حالاتو ته په کتو سره له خپلو ترهګریزو بریدونو سره شاتګ هم کوي .

د هغو افغانان شمیر لږ نه دی، چې دوی نړیوال ځواکونه د طالبانو ترهګریزو بریدونو له امله تورنوي. دوی په دې باور دي، څو د لویدیځ ځواکونه په هیواد کې شتون ولري، سوله او امنیت ناشوني دي. له دې امله دوی دې ته چمتو شوي، د ایساف ځواکونو په پرتله له طالبانو سره مرسته کوي. په افغانستان کې د ایساف ځواکونه د افغان سیمه ییز وسله والو ښوونه او روزنه تر سره کوي.

طالبان په سترو ښارونو کې د خپلو هر یوه ترهګریز برید سره هڅه کوي، څو د خلکو احساسات خپل لوري ته ور کاږه کاندي. او هممهاله د لویدیځ پوځونه له پښو وغورځوي.

## تر وتلو مخکې بې ځونده ترخې پوښتني

که د لویدیځ دولتونه له افغانستانه خپل پوځیان وباسي، یو څو بې خونده ترخې پوښتني به رامنځ ته شي: په دې هیواد کې به له لسګونو زرو افغان توکمو همکارانو سره څه رنګه چلند وشي ؟ ژباړونکو، مرستیال ځواکوانو، کارګرانو، ملي سوداګرو، ملي پولسو، او ملي اردو پرسونل ته به څه ورپیښ شي. طالبان به پر دغو خلکو د غچ اخیستلو خونړي کمپاینونه پیل کړي. آیا د لویدیځ دولتونه دومره شرافت لري، څو د دغو خلکو ساتنه وکړي؟

## په څه ډول به سړی دا پینځلس کلنه ناکامي وزغمي؟

یوه بله پوښتنه دا ده، چې سړی به څنګه دا پینځلس کلنه ناکامي ومني؟: په افغانستان کې ځښت ډیر خلک ووژل شول، په میلیاردونو لګښتونه وشول.

نړیواله سیاسي او پوځي ټلواله به څنګه دا مني، چې دوی دا جګړه بایللي ده؟ که څه هم دوی په ریښتني توګه په پوځي ډګر کې برلاسي بریښي.

څنګه به سړی ورسته له پینځلسو کلونو داسي یوه ماتي له میلیاردونو ډالرو لګښتونو سره په سیاسي توګه وزغمي یا ومني.او بالا اخره په پای کې څه ترلاسه کیږي؟

کله چې موږ دغه هیواد خپل برخلیک ته پریږدو. افغانستان به بیا د ۲۰۰۱ کال څخه مخکې په ځبر د ترهګرو په ځاله بدل شي.

## په هره بیه باید طالبان؟

په افغانستان کې د لویدیځو هیوادونو اوسني ستراتیجي به په داړ منه توګه د نور پینځلسو کلونو له لګښتونو سره مل وي. په پوځي ډګر کې طالبانو ته په اوسنیو توکو باندې ماتي نشي ورکول کیدای. له دې مخکې افغان مجاهدینو شورویانو ته ماتي ورکړي ده. ولي طالبان د لویدیځ ځواکونو سره بل ډول چلند وکړي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

له منځلارو طالبانو سره خبرې اترې تر اوسه کومه پایله نه ده درلودلې. یا طالبانو د خپلمنځي جګړو یا اختلافاتو له لارې یو بل سره وژني. په پایله کې دا راوځي، چې سړی اصلاً نه پوهیږي، د چا سره خبرې اترې وشوې. او یا دا چې په طالبانو کې سختدریځه جګړیز بنسټپال طالبان برلاسي کیږي. جوړ جاړې، روغه جوړه او خبرې اترې د دغې سیمې په لمن کې نشته .

## له پېنځلسو کلو ورسته به څه شي دلته پاتې شي؟

بنایي په پای کې لویدیځ دولتونه ورو ورو په همدې ډول په غلي او ارامه توګه له افغانستانه خپلې پښې سپکې کړي او ووځي. ځکه په نړۍ کې ډېرې نورې تودې جګړه ییزې سیمې شته، دغه سیمې لا نوره بیړنې ښکارې.

د ناټو په اړه بحثونه او د یو قطبیتوب عمومي اړتیاوې د افغانستان وضعیت نه اسانه کوي. وسمهال طالبان د نوې ستر پوځې ځواک سره بیرته راروان دي او د پرمختګ پر لور روان دی. د دې ډیر احتمال شته، چې د دوی بیرغ ډیر ژر یو ځلې بیا پر کابل ورپیږي .

په ریښتیني مانا په افغانستان کې نه پوځي چارواکو او نه د زړونو ګټلو له لارو چارو څه ترلاسه شول.

د افغانستان په اوږده لرغوني تاریخ کې اوسني لویدیځوال وسله وال ځواک به لومړني او ورستني ځواک نه وي، چې په افغانستان کې ماتې خوړې او تېرینه وځي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ